مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخر ۲۰۲۳/۰۸/۰۸

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(دربیمه برخه)



(غازي امان الله خان او فضل عمر مجددي، نورالمشايخ)

**د پنیالي کودتا**

د خوست د بغاوت له ناکامیدلو وروسته په ۱۹۲۷ ز، کال کې چې امان الله خان د اروپا په سفر وتلی ؤ، انګرېزان په دې هڅه کې وو چې د کودتا له لارې امان الله خان له مخې لرې کړي، هغه وو چې د امان الله خان د پرځولو په موخه یې په دېره اسماعیل خان کې د شېر آغا، فضل عمر مجددي (نورالمشایخ[1]) په مشرۍ د کودتا پلان جوړ کړ، دغه کودتا په اړونده اسنادو کې (د پنیالي توطیه) په نوم یاده شوې ده.

هغه مهال چې نورالمشایخ د خوست د ناآرامیو په تور، د امان الله خان لخوا له هېواده وشړل شو، د انګرېزانو تر حمایې لاندې د هندوستان په سرهند سیمه کې استوګن شو چې وروسته په دېره اسماعیل خان کې مېشت شو.

---

1: شیرآغا یوه امریکایي (بن جیمس) لیدلی ؤ او د هغه کرکټر یې وروسته له ډېرو خبرو څخه داسې انځور کړی دی: شیرآغا د هند د کتیوار خلکو ته د خدای(ج) د نماینده په څیر ؤ... ویل یې چې ټول کرامات د ده په لویه څیره کې چې موسکا نه په کې لیدل کیږي سره راټول شوي دي او لږ تر لږه د شومو او خبیثه ارواحو ضمانت یې کولو ... .» ریه تالي ستیوآرت: اور په افغانستان کې. ۵۰۷مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د پنيالي کودتا په اړه، «په کابل کې د انګرېزانو شارژدافير (بي، جي، ګولډ) د پنيالي توطيې پلي کولو په هکله چې د ۱۹۲۸ز، کال د مارچ مياشتې ۸مه نېټه ټاکل شوي وه، د فبرورۍ په ۲۸مه نېټه په يو ټلګرام کې د بريتانوي هند له حکومت څخه هيله وکړه چې د موضوع د اهميت له امله دې د توطيې د بهير مالومات لندن ته ورکړای شي.»[2] (ډاکټر عبدالرحمن زماني:بازنگری دورۀ امانی و توطیۀ های انگلیس. ۳۶۱مخ)
د انګرېزانو«د بلوچستان په استخباراتي راپور کې د حاجي دوست محمد له خولې ويل شوي دي چې دغه د ملايانو توطيه د شوربازار د حضرت صاحب فضل عمر [نورالمشايخ] په مشرۍ رهبري کيږي. ادعا کيږي چې هغه [نورالمشايخ] له مهمو کسانو: عبدالعزيز خان دفاع وزير، شېر احمد خان د شورا رييس چې اوسمهال له پاچا امان الله سره [د اروپا په سفر] دی، د کندهار پخوانی والي، محمد عثمان خان او يو تن د [غازي] ايوب خان له پخوانيو ملاتړو سره په ليکلي بڼه په اړيکه کې دی... پتېيل شوي وه چې د مارچ له ۸مې وړاندې دا توطيه پيل شي چې د جلال آباد نايب الحکومه شاه محمود خان، د نادر خان ورور هم په کې ونډه درلودله.»[3]
د پنيالي د کودتا په اړه د (بي، بې، سي) پښتو څانګې پخوانۍ مشره صفيه حليم چې د ډاکټر زماني په څېر په انګلستان کې د لندن کتابتون آرشيف ته لاسرسی لري، په يو ليکنه کې ليکي:«د سازش په لومړۍ مرحله کې کابل کې د (جديد خيالانو) ډلې غړي او د دوی مشر [د سلطنت وکيل] محمد ولي خان نيول کيده، بيا د امير [امان الله خان] په دربار کې د مصاحبانو پلويانو اعلان کاوه چې نادر خان دې له فرانسې نه بيرته افغانستان ته راشي، سمدلاسه به نادرخان په يوې الوتکې کې افغانستان ته راتلو او په کابل کې به د ده پاچاهي اعلانيده. د جلال آباد، خوست او د کندهار واليان هم په دغه سازش کې شامل او د دوی نومونه د برطانوي استازي سره موجود وو.
د پنيالي سازش افشا کوونکې د افغانستان د دفاع وزير او د امان الله خان دويم مرستيال، عبدالعزيز خان بارکزی ؤ... د ده وروړعبدالحکيم خان د جنوبي ولايتونو والي او [دفاع وزير] عبد العزيز د هغه له لارې، د شاه محمود ځينې پټ پيغامونه تر لاسه کړل. ده د خزانې وزير ميرهاشم او امان الله خان ته پتمن نورو کسانو ته د سازش خبر ورکړو. امير امان الله خان ته په يورپ کې اطلاع وشوه نو هغه [د سلطنت وکيل] محمد ولي خان او نورو وزيرانو ته د بغاوت د مخ نيوي لپاره وويل. شاه محمود هغه وخت د خپل ولايت د سرکاري سفر لپاره تياري کوله چې ولس د نادرخان د پاچا کيدو لپاره آماده کړي خو [د ماليې] وزير ميرهاشم خان هغه د خپلې عهدې نه برطرف کړو او کابل ته يې وروغوښتو. د سازش ځينې نور لوبغاړي يې ونيول او محمد ولي خان په کابل کې انګريز استاځي ته ليکلی خبردارې ورکړو چې سمدلاسه د صوبه سرحد نه ګوډ ملا[4] [فضل عمر مجددي نورالمشايخ] وشړي.[5]
د پنيالي د توطيې پلان وړاندې له هغې چې پلی شي، د امان الله خان د حکومت لخوا کشف شو، د [نادر خان ورور] شاه محمود خان چې د توطيې غړی ؤ له کاره ګوښه کړای شو او کابل ته ولېږل شو، د شبکې يو شمېر نور غړي له کاره ګوښه کړای شول او ځيني نور د څارنې لاندې ونيول شول خو د غازي امان الله خان په هدايت [چې د اروپا په سفر ؤ] څوک ونه وژل شول او نه څوک بنديان شول.[6]
په کابل کې د شيرآغا [فضل عمر مجددي] ډله د هغه ورور ګل آغا [محمد صادق مجددي] او وراره يې معصوم مجددي لاس په کار شول چې د شيرآغا هغه پلان عملي کړي چې د هند په پټياله [پنياله] کې د جنوري په مياشت کې يې له ملايانو سره په يوه غونډه کې لاس ليک کړی ؤ، د شيرآغا لپاره د خوست سيمه ډېر مناسب ځای ؤ چې څلور کاله وړاندې نږدې وو چې امان الله خان له منځه يوسي او تر اوسه پورې د هغه د رټلو په باره کې ترخې خاطرې احساس کيدلې شير آغا غوښتل چې په خوست کې يو بل پاڅون ته لمن ووهي، ګل آغا له ځانه سره يوه اعلاميه درلودله چې څلورسوو ملايانو په کې لاسليک کړی ؤ او په کې ويل شوي وو چې پاچا کافر شوی دی او افغانستان له اسلامي اصولو

---

[2] : د لندن نه په ۲۸ فورري يو ټېليګرام (تار) کابل کې بريتانوي سفارت ته ورواستول شو چې د دې پلان تفصيل او د نورو مربوطه اسنادو غوښتنه پکې شوې وه.» (د صفيه حليم له ليکنې څخه: د عربستان لارنس په افغانستان کې.)
[3]: ډاکټر عبدالرحمن زماني: بازنگری دورۀ امانی و توطیۀ های انگلیس. ۳۶۲مخ
[4]: له ګوډ ملا څخه منظور فضل عمر مجددي دی چې له ډيورنډ کرښې ها خوا، په ډېره اسماعيل خان کې د کودتاچيانو او ياغيانو مشري يې کوله. ګوډ ملا په ۱۹۲۵ز، کال کې اعدام شوی ؤ.
[5]: صفيه حليم: د عربستان لارنس په افغانستان کې.
[6]: کله چې نادر شاه پاچاهۍ ته ورسيد، يو شپه وروسته، د امان الله د حکومت د ماليې وزير، مير هاشم خان په مرموز ډول ووژل شو او جنرال محمد ولي خان وروسته له څه مودې بند څخه ووژل شو. (ډاکټر عبدالرحمن زماني:بازنگری دورۀ امانی و توطیۀ های انگلیس. ۳۶۲مخ)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

 څخه لرې ساتي، خلک دې د هغه پر ضد ودرېږي. ګل آغا، معصوم او نوره ډله يې په منګلو[7] کې د حکومت لخوا ونيول شوه او کابل ته امانت راوړل شوه... .[8]
په دې هکله د محمد صادق مجددي لمسی، فضل غني مجددي ليکي چې «حضرت مجددي خپل استازي جنوبي [پکتيا] ته واستول چې د احمدزيو قبيلې د هغه دعوت ومنلو، د احمدزيو قبيلې استازي د ۴۰۰ تنو لاس ليکونه چې د قرآن په پاڼو کې يې کړي وو، شوربازار ته راوړل، په هغه کې يې ژمنه کړې وه چې د حضرت صاحب تر مشرۍ لاندې به د امان الله پر وړاندې مبارزه کوي.[9]
محمد صادق مجددي پخپلو خاطرو کې د امان الله خان پر وړاندې د خپل بغاوت څرنګوالی ليکلی دی چې موږ يې په لنډو ځينې اړينې کرښې را اخلو:«... په خواشينۍ سره چې امان الله خان د اروپا له سفر وروسته نور د خلکو په زړونو کې ځای نه درلود، هغه اسلامي قوانين تر پښو لاندې کړل او پر ملي دودونو يې ملنډې ووهلې، د اروپايي جامو پر اغوستلو او پر خلکو د اروپايي عادتونو تحميلولو له امله په خپل خلک راپورته کړل، نو د اسلام دين د خدمت او د افغانستان د ناموس د ساتلو په موخه له خپل سر، مال او کورنۍ څخه تېر شوم، هوډ مې وکړ چې د خپلو دوستانو او قومونو په مرسته د اماني دولت پر وړاندې جهاد پيل کړم.»[10]
مجددي زياتوي:«... تصميم مې ونيو چې د جنوبي (لويې پکتيا) پر لور وخوځېږم. زه، حضرت مولانا شهيد ملا عبدالرحمن، سناء معصوم جان [مجددي]، ملا سلطان جان، شيخ محمد صديق خان، د مير په کلا کې د خپلې سفري توښې په برابرولو لګيا وو چې له ګهيځ وړاندې مهال خوب يوړم چې يو عجيب خوب مې وليد: وينم چې زما قدرمن پلار د يو بل شخص سره ولاړ دی او امسا (عصا) يې په لاس کې ده او د قرآن [کريم] دغه مبارک ايت لولي:[11] ﴿فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾[12]
محمد صادق مجددي وړاندې ځي ليکي چې کله د احمدزيو سيمې ته ورسيدو هغو قومي مشرانو او ملايانو چې د امان الله خان پر وړاندې يې د پاڅون ژمنه کړې وه، له خپلې کړې ژمنې په شا شول. دا مهال مجددي هڅه کوي چې د ځاځيو د علي‌خېلو پر لور ولاړ شي چې د هغه ځای له سرحدي قوماندان عبدالغني سرخابي سره يو ځای شي (د مجددي پر وينا، نوموړي قوماندان هم د پاڅون ژمنه کړې وه) مجددي او ډله يې د لارې په اوږدو کې له يو شمېر وسله والو غلو سره مخ کيږي چې په ډزو کې د قاضي القضات ملا عبدالرحمن يو زوی محمد عيان ټپي او په ځنګل کې پاتي کيږي، د دوی کسان يو خوا بل خوا تښتي، وروسته له هغې چې غله هر څه ترې لوټ کړي، سره يو ځای شي خو محمد صادق مجددي او ډله يې د خپلې وېرې او بزدلۍ له امله خپل ملګری، د قاضي القضات زوی محمد عيان، په ټپي حالت کې پرېږدي.
مجددي چې د خپل ناځوانه عمل له امله خپل وجدان ځوراوهٔ، په رښتيني توګه ليکي چې «ترڅو ژوندی يم له دې امله چې محمد عيان جان مو يوازې پرېښود، د خپل وجدان پر وړاندې شرمنده يم.»[13]
وروسته له دې پېښې مجددي او ملګري يې د ځاځيو د علي خېلو پر لور درومي او په هغه ځای کې د يو قومي مشر په کور کې اوسيږي، مجددي سرحدي قوماندان ته د خپل ورتګ حال ورکوي خو قوماندان د احمدزيو د قوم مشرانو په څېر له مرستې ډډه کوي.
داسې ښکاري چې سرحدي قوماندان جنرال عبدالغني، محمد صادق مجددي په خپلو ژمنو غولولی وي، د مجددي له نيول کيدو وروسته امان الله خان مجددي ته د تحقيق پر مهال وايي:«تاسو په خپلو پښو لومې (دام) ته ورغلي ياست، نه پوهېدئ چې حکومت ستاسو د نيولو په موخه عبدالغني د ښکار د لومې په توګه ټاکلی ؤ.[14]»
دا مهال چې مجددي له هر لوري په لومه کې نښتی ؤ، په ځاځيو کې د يو قومي مشر (ملک عزيز خان) کلا چې مجددي په کې مېشت ؤ، د حکومت لخوا تر څارنې لاندې وه، نوموړی نه په شا تللی شو او نه يې له ډېورنډ کرښې ها خوا

---

7: د محمد صادق مجددي ډله په منګلو کې نه، بلکې د ځاځيو په علي خېلو کې ونيول شوه.
8: ريه تالي ستيوآرت: اور په افغانستان کې.٤٩٩مخ
9: فضل غني مجددي: افغانستان در عهد اعليحضرت امان الله خان. ۲۵۱مخ
10: ياد داشت ها خاطرات سياسی حضرت محمد صادق المجددی . ۶۳مخ
11: هماغه کتاب. ۶۴مخ
12:دا د قرآن د يونس سورت ۸۹ آيت وروستۍ برخه ده چې د نوموړي آيت مکمله ژباړه داسې ده:«ويې ويل: ستاسو دواړو دعا قبوله شوه، ثابت قدم اوسئ او د هغو خلکو د کړنچارې پيروي مه کوئ چې علم نه لري.»
13: ياد داشت ها خاطرات سياسی حضرت محمد صادق المجددی.۷۷مخ
14:هماغه کتاب. ۱۱۰مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

انګرېزانو ته ځان ورسولی شو. مجددي لاپي وهي چي نه يي غوښتل انګرېزانو ته ورشي[15]، سره له دي چي د امان الله خان لخوا له اعدام سره مخ ؤ، بيا هم په خپله خوښه حکومت ته تسليم شوی دی. مجددي ليکي:«... که چېرې هندوستان ته ولاړ شو نو ډېر له درناوي ډک ژوند به وکړو ځکه چي د انګرېزانو حکومت سياسي اړيکي له امان الله خان سره خرابي دي او د امان الله خان د ځورولو لپاره به موږ ته ښه راغلاست او موږ به په ښه توګه وساتي[16] ... خو دا ژوند به ډېر شرموونکی وي، ځکه چي افغانان او د هند مسلمانان به ووايي چي د ستري محکمي رييس قاضي ملا عبدالرحمن خان چي په لوړه تقوا مشهور دی او د کابل حضرت صاحب چي د حضرت مجددي ځای ناستی دی، له اسلامي هېواد څخه تښتيدلي، د انګرېزانو حکومت چي د اسلام او افغانستان دښمن دی تسليم شوي او له اسلام څخه يي کفر ته پنا وړي ده.[17] که د امان الله خان حکومت ته تسليم شو يقيناً چي کورنی او دوستان به مو په کابل کي بنديان کيږي او موږ به وژل کيږو چي دا ډول له شرافته ډک مرګ زموږ لپاره وياړ دی. هغه وو چي موږ پنځه تنه محمد صادق المجددي، مولانا عبدالرحمن الحسيني، سناء معصوم المجددي، ملا عبدالمنان الحسيني، ملا سلطان خان افغاني د ملک عزيز خان له کوره د ځاځيو جنګي کلا ته ورغلو.[18]

په کابل کي امان افغان جريدي وليکل چي د افغانستان پوځي ځواکونه بريالي شول د محمد صادق مجددي او پلويانو حرکت شنډ کړي او ټول ونيول شول، کابل ته د محاکمي لپاره تورمخي راوړل شول چي د درندي سزاګاني به ووينې.[19]

د ۱۹۲۸ ز، کال په سپتمبر کي امان الله خان قاضي القضات ملا عبدالرحمن خان پغمانی، قاضي عبدالقادر، قاضي فضل الحق، قاضي عبدالمنان د کابل په سياسنګ کي اعدام کړل.

پاچا د محمد صادق مجددي او محمد معصوم مجددي د اعدام حکم د محمد صادق مجددي ورور، حضرت نورالمشايخ چي په دېره اسماعيل خان کي اوسيده، افغانستان ته تر راتلو پوري وځنډاوه.[20]

د پيښور په يوه جريده کي چي سرحد نوميده، (د جريدي له نومه ښکاري چي د انګرېزانو لخوا خپريدله) داسي ليکل شوي وو:«د تعجب ځای دی چي د داسي يو پر نفوذه سړي د نيول کيدو په مقابل کي چي د شاهي کورنی پير هم ؤ هېڅ چا ګوته جګه نه کړه، د پاچا له ډاره هېڅ ځوک د خبرو کولو جرئت نه لري، اوريدل شوي دي چي زيات د احترام وړ کسان افغانستان ته ننوتي دي او هم ويل شوي دي چي محمد عثمان او قاضي عبدالرحمان نيول شوي، ځکه چي د جشن په وخت کي يي منګل د حکومت پر ضد راپاڅول... .[21]

نېټه:۱۴۰۲/۵/۱۵ل. ل

**نور بيا**

---

15: غازي امان الله خان له مجددي څخه د تحقيق پر مهال پوښتنه وکړه:«که د انګرېزانو تر ولکي لاندي سيمو ته په ورتلو بريالي شوی وای له خپل مشر ورور نور المشايخ سره اوسيدلی يا په کوم بل ځای کي؟.» د امان الله خان دا پوښتنه دي ته ګوته نيسي چي کله له مجددي سره د پکتيا قومونه ونه دريدل نو له کرښي ها خوا د اوښتو په تکل کي شو خو وړاندې له هغي چي له کرښي واوړي د حکومت لخوا ونيول شو.
مجددي د امان الله خان په ځواب کي انګرېزانو ته له ورتلو څخه انکار کوي وايي چي «ما نه غوښتل انګرېزانو ته پنا يوسم خو خدای مه کړه که چېري د انګرېزانو خاوري ته ورغلی وای، خپل ورور ته نه ورتلم، ځکه چي هغه زما د فکر مخالف ؤ او دی، د هند ځمکه ډېره لويه ده، په هر ځای کي چي زما نصيب وای، هلته به استوګن شوی وم.» (ياد داشت ها خاطرات سياسی حضرت محمد صادق المجددی ۱۱۲مخ
16: هماغه کتاب. ۸۱مخ
17: په داسي حال کي چي د محمد صادق مجددي مشر ورور نورو المشايخ پنځه کاله وړاندې له اسلامي هېواد څخه د انګرېزانو کفري حکومت ته ورتسليم شوی ؤ.
18: ياد داشت ها خاطرات سياسی حضرت محمد صادق المجددی.۸۲مخ
19: هماغه کتاب ۲۵۳مخ
20: فضل غني مجددي: افغانستان در عهد اعليحضرت امان الله خان. ۲۵۴مخ
21: اور په افغانستان کي. ۵۰۷مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ